مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۲/۱۶

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (پنځمه برخه)

### تورن جنرال عبدالقادر

په ۱۹۴۴ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. خپله دنده ئې په هوايي ځواک کې پیل کړې ده. د شوروي اتحاد په سوسیالیستي جمهوریتونو کې ئې د پیلوټ د روزنې او ستاف کالج [1] کې تحصیل وکړ. په ۱۹۷۳ز کال کې ئې د داؤود د کودتا ملاتړ وکړ. په ۱۹۷۳ز کال کې د هوايي مدافعې بولندوی سو. له خپلې دندې لېرې سو او په کابل کې د مسلخ رئیس وټاکل سو. محمد داؤود او د دفاع وزیر حیدر رسولي بېرته خپلې لومړي دندې ته راوست. په ۱۹۷۵ز کال کې د کندهار د پوځي هوايي ډګر بولندوی. د ۱۹۷۷ز کال په سپتمبر کې د هوايي مدافعې درستیزوال. د غوايي په پاڅون کې ئې فعالانه ونډه واخیستله او د ولسمشرۍ په ماڼۍ باندې ئې د هوايي برید لارښوونه وکړه. تر هغو چې ملکي کسانو واکمني په لاس کې واخیستله عبدالقادر د نوي واکمنۍ مخکښ ویاند وو. د ۱۹۷۸ز کال د مې له میاشتې د آګست تر میاشتې پورې ددفاع وزیر. د ۱۹۷۸ز کال د آګست په میاشت کې ونیول سو او د خلقي حکومت پر ضد په دسیسې تورن سو. په اعدام محکوم سو خو په ګوند کې د غړیتوب او د ِ شوروي د مداخلې؟ له کبله سزا ئې تخفیف سوه او د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر په ۷ نېټې په ۱۵ کالو حبس محکوم سو. کله چې ببرک د واکمنې پر ګدۍ کېښېنول سو عبدالقادر له زندانه خوشې او دانقلابي شورئ غړی او د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې غړی سو. د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د سیاسي بیرو علی البدل غړی او له ۱۹۸۲ تر ۱۹۸۵ز کال پورې د دفاع وزیر. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۲ز کال پورې، د رئیسه هیئت [2]، مرستیال رئیس. مورنۍ ژبه ئې دري ده. د ۱۹۸۵ز کال د نوامبر په میاشت کې د صحي معاذیرو له کبله ورخخه وغوښتل سول چې له مرکزي کمیټې څخه استعفی وکړي. په ۱۹۸۶ز کال کې د پولند سفیر.

### ډاکټر عبدالقیوم

په ۱۹۱۹ز کال کې په لغمان کې زېږېدلی دئ. د حاجي عبدالقادر زوی او د ډاکټر عبدالظاهر ورور. د حبیبې په لیسې کې ئې زده کړې کړي دي. د ایلي نویز له پوهنتون څخه ئې لیسانس او د شیکاګو له پوهنتون څخه ئې خپله ماستري

[1] - Pilot Training and Staff college
[2] - presidium


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تر لاسه کړي ده. په ۱۹۴۸ز کال کې ئـې خپله دکتورا په ښووني او روزني/ معارف کې د «دن وَر » [3] » له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. په ۱۹۴۹ز کال کې د معارف د وزارت د مسلکي زده کړو غړی وو. په ۱۹۵۰ز کال کې د دارالمعلمینو رئیس وو. په ۱۹۵۳ز کال کې د هلمند د دریِ د پرمختیا د پروژې رئیس. په ۱۹۶۱ز کال کې د ګرشک د ولایت والي وو. د ۱۹۶۳ز کال په اصلاحاتو کې ئـې فعاله واخیسته. په ۱۹۶۳ز کال کې د مخابراتو وزیر. په ۱۹۶۳ز کال کې د کورنیو چارو وزیر. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې مرستیال صدراعظم او د معارف وزیر. د هاشم میوندوال او مرحوم موسی شفیق له سیاستونو سره موافق نـهٔ وو. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په نیویارک کې د افغانستان بانک استازی. . په ۱۹۶۸ز کال کې ئـې د ستور دریم درجه مډال تر لاسه کړ. له ۱۹۸۲ز کال را په دېخوا د ریاض د پوهنتون استاد. له یوې یوناني الاصلې امریکایي مېـرمنې سره ئـې وادهٔ کړی دئ.

## میرزا عبدالقیوم

د امیر شیرعلیخان پر مهال د خزانې د وزیر احمد علي زوی. د احمد مفسر تر لاس لاندې ئـې تفسیر ولوست او محاسبه ئـې له خپل پلار او نورو رسمي مأمورینو څخه زده کړه. تر ۱۹۱۹ز کال پورې د مستوفي میرزا محمد حسین د محاسبې د دفتر مدیر (ناظم) [4]. تر ۱۹۲۸ز کال پورې د هوایي پوځ د دیپارتمنت د تدارکاتو مدیر (قوماندن طیاره) [5]. په ۱۹۲۹ز کال کې حبیب الله کلکاني له پلوه د کابل د مستوفي په توګه مقرر سو. له ۱۹۲۹- ۱۹۳۹ز کال پورې د نادر شاه له پلوه زنداني سو او مایملک ئـې ضبط سول. د «آئینـهٔ اسلام» او «جواهر المنظوم» په نومونو آثار ئـې لیکلي چې چاپ سوي نـهٔ دي. په ۱۹۵۴ز کال کې مړ سو.

**عبدالملک عبدالرحیم زی** : وګورئ : عبدالملک عبدالرحیم زی

## عبدالرشید

د میرزا عبدالقیوم زوی، په ۱۹۲۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د ملي بانک مأمور. د قره قل د صادراتو د کمپنی مرستیال رئـیس. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د افغان ملي بیمې د کمپنی رئـیس. له ۱۹۸۱ز کال را په دېخوا د امریکا په متحده ایاتو کې ژوند کوي.

## عبدالرؤوف

د ۱۹۸۰ز کال د جون له میاشت راهیسې د ستري محکې د رئـیس مرستیال

## مولوي عبدالرؤوف

د بادغیس وزبیک. په ۱۹۸۱ز کال کې د (جبهـهٔ ملي پدر وطن) ولایتی رئـیس. د وزیر اکبر خان د جامع جومات امام. د ۱۹۸۵ز کال په ډسمبر کې د انقلابي شوری غړی. د ګوند غړیتوب نـهٔ لري.

---

[3] - University of Denver, U.S
[4] -Nazim
[5] - Commandan-i- Teyyara


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## عبدالصمد

(د فراه د ۱۹۴۸ز کال د  والي عبدالعلي خان ورور) په ۱۸۹۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې له لیسي فارغ سوی دئ. په ۱۹۲۱ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې شامل سو. په ۱۹۲۲ز کال کې په لندن کې د سفارت دوهم سکرتر. په ۱۹۲۵ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د ختیځو چارو د څانګې مشر. په ۱۹۲۶ز کال کې په پاریس کې د سفارت لومړی سکرتر. د ابن سعود د جمیع المسلمین کنفرانس ته د پلاوي په توګه لاړ.  له ۱۹۲۸ تر ۱۹۳۶ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې د پروتوکول د څانګې مشر. په ۱۹۳۶ز کال کې د روم وزیر مختار. په ۱۹۴۶ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت د سیاسي چارو رئیس. په ۱۹۴۸ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت لومړی مرستیال وزیر. په ۱۹۵۲ز کال کې د عراق سفیر. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۲ز کال پورې د چین سفیر. تقاعد سو او له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۰ ز کال پورې د مشرانو جرګې کې انتصاب سو. په ۱۹۸۰ز کال کې په کابل کې وفات سو. (زوی ئې یوسف صمد چي یو دیپلومات دی له عذرا فرهنګ سره واده کړی دئ، عذرا د میر محمد صدیق فرهنګ لور ده او د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.) په فرانسوي، ایتالوي او انګلیسي خبرې کوي.*

## عبدالصمد

(د امیر امان الله خان د سلطنت پر مهال د مالیې د وزیر) حاجي محمود زوی. د کابل د ښکلیو هنرونو له ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. رسام دئ چي د تأریخي او دیني هنر په آثارو کې تخصص لري. کله چي ناروغ سو خپل ټول آثار ئې وسوځول.

## ډاکټر عبدالوکیل

په ۱۹۲۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ (کورنی ئې د میدان له ولایت څخه ده). په ۱۹۴۲ز کال کې د غازي له لیسي فارغ څخه سوی دئ. په ۱۹۴۶ز کال کې ئې خپل لیسانس او ماستري د (پنجاب) د لایلپور له اګري کلچر کالج[6] څخه واخیستي.  له ۱۹۴۶ څخه تر ۱۹۴۸ز کال پورې د ښوونکو د روزنې په اکاډیمی (دارالمعلمینو – ژ) کې د کرنې استاد. د کابل د کرنې په مسلکي ښوونځي کې ښوونکی.  له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۲ز کال پورې ئې د لندن په پوهنتون کې تحصیلات وکړل او په ۱۹۵۲ز کال کې ئې خپله دکتورا د کرنې په علومو کې تر لاسه کړه. په ۱۹۵۲ز کال کې د کرنې په وزارت کې د کرنې رئـیس. په ۱۹۵۶ز کال کې ئې شوروي اتحاد ته د صدراعظم داؤود د رسمي سفر ملتیا وکړه. د کرنې د وزارت مرستیال وزیر. . په ۱۹۶۳ز کال کې د هلمند د درې د پرمختیا د پروژې عمومي رئیس. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د مشرانو جرګې سناتور. په ۱۹۷۱ز کال کې د مشخص وزارت له لرلو پرته، وزیر. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کرنې وزیر.  په ۱۹۵۵ او ۱۹۷۱ز کلونو کې ئې د امریکا په متحده ایالاتو کې په لنډو مطالعاتي پروګرامونو کې ګډون وکړ او دا کار ئې په ۱۹۵۶ز کال کې په هندوستان کې هم وکړ. په ۱۹۶۹ز کال کې د پوهنې مډال ورکړل سو. له ۱۹۷۸ز کال وروسته له افغانستانه ووت. مورنی ژبه ئې پښتو ده.*

6 - Laylpur (Punjab) Agriculture College


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## عبدالوکیل

د ببرک کارمل د تورې/ خاله زوی د کابل په ختیځ کې په ۱۹۴۷ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۴ز کال کې د حبیبیې له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په همدې کال د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند غړی سو. په ۱۹۶۵ز کال کې د کابل پوهنتون د اقتصاد په پوهنځي کې ومنل سو چې په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ز کال کې له دوه وو کالو حبس وروسته په ۱۹۷۱ز کال کې فارغ سو. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۸ز کال پورې په بشپړ ډول د ګوند په سیاسي چارو کې ښکېل وو. په ۱۹۷۳ز کال کې ئې د عسکرۍ د مکلفیت دوره تېره کړله. په ۱۹۷۸ز کال کې د انقلابي شورى له غړیتوب سره یو ځای سو او هم د باندنیو چارو په وزارت کې د سکرتر جنرال په توګه وګومارل سو. د ۱۹۷۸ز کال د جولای په میاشت کې په برتانیې کې د سفیر په توګه وټاکل سو. د ۱۹۷۸ز کال د آګست په میاشت کې له خپلې دندې څخه وشړل سو. د ببرک کارمل د حکومت تر جوړېدو پورې په تبعید کې پاتې سو. د مالیې وزیر او په ۱۹۸۰ز کال کې د ملي بانک د مدیره هیأت د بورډ رئیس. د مرکزي کمیټې او د انقلابي شورى غړی. په ۱۹۸۴ز کال کې د ویتنام سفیر. د شیر دل وردک له لور سره ئې واده کړی دئ چې یوه لور او یو زوی لري. مورنۍ ژبه ئې دري ده. د ۱۹۸۶ز کال د ډسمبر په میاشت کې د باندنیو چارو وزیر.*

## عبدالولي

د پخواني پادشاه د اکا د زوی د سردار شاه ولي زوی په ۱۹۲۵ز کال کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۳۱ تر ۱۹۴۳ ز کال پورې ئې په فرانسې کې تحصیلات وکړل. په ۱۹۴۵ز کال کې انګلستان ته لاړ او په "سندهرتس"[7] کې ئې تحصیل وکړ او همدا شان له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۴ز کال پورې ئې په "کمبرلي"[8] کې د "کماند اینډ جنرال ستاف کالج"[9] کې تحصیل وکړ. له بریدمنی تر ډګروالۍ د لیوا او کنډک بولندوی. تر ۱۹۷۳ز کال پورې د مرکزي ځواکونو/ قوای مرکز عمومي بولندوی. له شهزادګۍ بلقیس سره ئې واده کړی دئ. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۶ز کال پورې زنداني سو. له هېواده وشړل سو او له ۱۹۷۵ راهیسې په ایټالیا کې ژوند کوي.

## نور بیا

## ډاکټر عبدالظاهر شریفي

په ۱۹۰۹ز کال کې په لغمان کې زېږېدلی...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک]

[7] -Sandhurts
[8] -Camberley
[9] -Command and General Staff College



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ